# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگابښ ۲٤مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۱۴مه | ۵٦۷مه گڼه


## څېره


۴ مخ

### جک کروواک

جک کروواک په امریکا کې د بیټ نسل سرلاری و. دوی له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۵۰ز کال کې فعالیت پیل کړ. دغه ډلې غوښتل په ټولنه کې د شته ناوړه دودونو، ځینو اصولو، ارزښتونو، جنسي مسایلو او او ټولنیزو ستونزو پر وړاندې ودرېږي.



### رستمي: روان کال د زابل د بادامو حاصلات ۱۲ سلنه ډېر شوي دي



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، سږ کال د زابل ولایت د بادامو حاصلات ۱۲ سلنه ډېر شوي دي.
د دغه وزارت چارواکي وايي چې د اټکل له مخې، په روان کال کې به د دغه ولایت د بادامو حاصلات لږ تر لږه ۴۱۵۰ ټنو ته ورسېږي. د سرچینې په خبره، تېر کال په زابل کې ۳۷۰۰ ټنه بادام تولید شوي وو.
د کرنې وزارت ویاند اکبر رستمي ویلي: «د زابل د بادامو بڼوالو ته پوهاوی او د ناروغیو مخنیوي لپاره مرستې هغه علتونه دي چې سږ کال د دغې مېوې حاصل ډېر شوی دی.»
د کرنې وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د زابل ولایت نږدې ۱۱ زره هکتاره ځمکې باندې د بادامو ونې ولاړې دي. د یادونې ده چې زابل د افغانستان جنوب کې پروت ولایت دی چې تود اقلیم لري او د مېوو حاصل یې ښه کیفیت لري.

# د مذاکراتو په درشل کې بریدونه؛

## په سمنګانو کې د طالبانو برید له اویا ډېرو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



۳

د فساد په اړه ریپوټونو ته د حکومت ځواب

۲ مخ

د واک تر لاسه کولو لپاره د عملي سیاست اړتیا

۲ مخ

د ویتنام جنګونه

۳ مخ

## نی: د حکومت د محدودیت له کبله اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت بحراني دی

له ازادو رسنیو د ملاتړ بنسټ یا نی وايي چې په افغانستان کې اطلاعاتو ته د لاسرسي وضعیت بحراني دی. دغه بنسټ زیاتوي چې ولسمشرۍ ماڼۍ، امنیتي، عدلي او قضایي هغه بنسټونه دي چې لهخوا یې اطلاعاتو ته لاسرسی محدود شوی دی.
د نی چارواکو تېره ورځ د یوې ټولپوښتنې د موندنو د شریکولو په غونډه کې وویل، په ځینو بنسټونو، په ځانګړي ډول امنیتي سکټور کې اطلاعاتو ته لاسرسی محدود دی.
د نی اجرایوي مشر مجیب خلوتګر وايي: «زموږ خبریالان پر دې باور دي چې امنیتي بنسټونه اطلاعاتو ته د نهلاسرسي په برخه کې بد وضعیت لري، وروسته له امنیتي بنسټونو له بده مرغه قضا برخه دا ستونزه لري او وروسته له قضا ولسمشرۍ ماڼۍ یې لري. دوی دې برخه کې کار نهکوي او هېڅکله یې د خبریالانو پوښتنو ته ځواب هم نهوايي.» د خلوتګر په خبره، کورنیو چارو وزارت، ملي امنیت ریاست، لویه څارنوالي، ستره محکمه او ولسمشرۍ ماڼۍ هغه بنسټونه دي چې اطلاعاتو ته لاسرسی یې کم کړی دی.
خلوتګر زیاته کړې، که دې غوښتنې ته پاملرنه ونه شي، نو له رسنیو سره په همغږۍ به د حکومت په مقطعي تحریم لاس پورې کړي او یوه موده به د حکومتي خبرونو له نشرولو ډډه وشي.
له دې ټولو سره په حکومت کې یوې سرچینې ازادي راډیو ته ویلي، چې حکومت په ځانګړي ډول په امنیتي سکټور کې پر یوې طرحې کار کوي چې ډېر ژر به اعلان شي.
د دې سرچینې په وینا، د دې طرحې جوړولو موخه اطلاعات رسول، اطلاعاتو ته لاسرسي برخې پیاوړتیا او اطلاعرسونه ده.

## ملي امنیت شورا وايي، د طالبانو لهخوا د تاوتریخوالي دوام د افغانانو ترمنځ د مخامخ خبرو پیل له خنډ سره مخ کړی دی.




۲ مخ

## پاکستان د ننګرهار د دورباba ولسوالۍ په څڅوبي سیمه کې نوې دروازه ابېښي



پاکستان تازه د ننګرهار په دورباba ولسوالۍ کې ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه په څڅوبي سیمه کې دروازه ابېښې ده.
په هغو تصویرونو کې، چې پر ټولنیزو پاڼو خپاره شوي، ښکاري چې پاکستان تازه د دورباba ولسوالۍ په څڅوبي سیمه کې دروازه ابېښې، خو تر اوسه افغان چارواکو پرې هېڅ غبرګون نه دی ښودلی.
په ولسي جرګه کې د ننګرهار خلکو استازي او ځینې سیاسي فعالانو چې له دې سیمې لیدنه کړې، اندېښنه ښيي چې پاکستان په مکرر ډول د ډیورنډ فرضي کرښې په اوږدو کې پوځي تحرکات او سرغړونې لري او د دغو اقداماتو پر وړاندې حکومت چوپتیا غوره کړې.
د ولسي جرګې دفاعي کمېسیون پر حکومت غږ کوي چې د فرضي کرښې په اوږدو کې د پاکستان د تحرکاتو د مخنیوي په هدف اړین ګامونه واخلي.
په ورته مهال په ولسي جرګه کې د کونړ استازي هم وايي چې پاکستان د اغزن تار غځولو سربېره په صفري نقطه کې د ځنګلونو وهلو لړۍ هم پیل کړې ده، خو سیمه ییز او مرکزي حکومت یې په اړه تر اوسه اقدام نه دی کړی.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریځ

# د فساد په اړه رپوټونو ته د حکومت ځواب

په امریکا کې د افغانستان سفارت د سفارت د یوه دیوال په جوړولو کې د پراخ فساد رپوټونه رد کړي دي. سفارت په دې برخه کې د اسنادو خبره کړې ده، خو اسناد یې نه دي خپاره کړي چې خلک یې پر خبرو باور وکړي. تر دې وړاندې پژواک اژانس په یوه رپوټ کې ویلي وو چې په واشنګټن کې د افغانستان د سفارت ۷۰ متره دیوال په اتلس لکه ډالره جوړېږي، چې پکې په لوړه کچه فساد شوی دی.

په حکومت کې د زیاتېدونکي فساد په اړه کورني څارونکي بنسټونه او مرستندویان ټول اندېښنه څرګندوي او له دې امله پر حکومت نیوکې کوي. ولس هم له روان فساده ځورېږي او زیان ویني، خو ټولو ادعاوو او آن مستندو رپوټونو ته د حکومت ځواب مسوولانه نه دی. کله چې تر دې وړاندې پاکستان ته د وینټلاټورونو د قاچاق په اړه هم رپوټ خپور شوی و، حکومت رد کړ، آن د اشرف غني لومړي مرستیال مخکې له دې چې څېړنې وشي، وویل چې: «غوږ وګورئ، په پیشو پسې منډې مه وهئ، هر څه پر ځای دي». وروسته معلومه شوه چې د پژواک رپوټ سم و او آن وزارت چې کوم لېست خپور کړ، د هغو پر اساس په ولایتونو کې یا ماشینونه نه وو او یا یې په شمېر او څرنګوالي کې پراخ توپیر و. اوس دا دی چې د بل فساد رپوټ خپور شوی، حکومت بیا هم انکار کوي او آن په دې اړه جدي غبرګون نه ښیي. دا چاره د شدیدې اندېښنې وړ ده، ځکه چې حکومت په دې سره دا پیغام ورکوي چې ځیني کړی د فساد حق لري، نه څوک ترې پوښتنه کولی شي او نه هم دوی ځواب ویوونکي دي. له بده مرغه حکومت ورځ تر بلې په فساد کې غرقېږي.

د اشرف غني د سیاسي معاملو پر اساس اداري کمزورې شوې او فساد پکې خور شوی دی. آن عدلي او قضایي ارګانونه په خپلواک ډول عمل نه کوي او هغه څه کوي چې ارګ یې ورته وایي. پر حکومت یوه فاسده کړۍ واکمنه شوې چې له ارګ تر وزارتونو، ولایتونو او سفارتونو یې ریښې غځولې دي او هېڅوک یې پر وړاندې د درېدو توان نه لري.

کله چې پر حکومت فشار راشي، څو نمایشي کارونه وکړي، ځینې واړه مامورین څارنوالۍ ته معرفي کړي، خو لوی غله او مفسدین نه یوازې تر عدلي تعقیب لاندې نه راځي، بلکې لا زیات پرمختګ کوي. ولسمشر له فساد سره په مبارزه کې دومره بې تفاوته دی چې آن ځینې نوي معرفي شوي کاندید وزیران او سرپرستان یې پر فساد تورن دي او په څارنوالۍ کې دوسیې لري. له بله اړخه حکومت د خلکو په سترګو کې د خاورو شیندلو لپاره د فساد له ځینو ادعاوو وروسته د پلاوي ټاکلو خبره کوي، خو کله هم د دې پلاوو، کمېسیونونو او څېړنو پایلې معلومې نه شوې.

څو چې حکومتي مشران د واک لپاره دغه ډول ناوړه سیاسي معاملې کوي او څو چې یو داسې څوک په واک کې وي چې د خپلې واکمنۍ د دوام لپاره هر ډول معاملې ته حاضر وي، نه یوازې فساد به ورک نه شي، بلکې ورځ تر بلې به زیات شي. له همدې امله یو اساسي بدلون ته اړتیا ده چې زموږ له امنیت نیولې تر اقتصاد، حکومتولۍ او نورو چارو پورې هر څه ورسره سم شي.

# د واک تر لاسه کولو لپاره د عملي سیاست اړتیا

لیکنه: مشتاق رحیم

سیاست او سیاسي مباحثې د افغانانو کابو د ټولو ټولنیزو ناستو او سیاحتي چکرونو د بحثونو غوښنه برخه وي او آن ډېری وخت ټول بحث یوازې په سیاسي چارو راټول وي. همدا راز، هغه ابزار چې د ساعتیرۍ، له ورځنیو چارو څخه د ذهن آرامه کولو او د ټوکو ټکالو د کارونې لپاره دي هم موږ په سیاست ککړ کړي او پکې په سیاسي بحثونو بوخت یو. که تلوېزیون او راډیو تر ډېره د سیاسي خبرونو او پروګرامونو د کتلو او اورېدو لپاره کاروو، نو ټولنیزې رسنۍ لکه فیسبوک او ټویټر هم د سیاست او د سیاسي بحثونو او کیسو مرکز ګرځېدلي.

داسې نه ده چې نورو هیوادونو کې دا کار نه کېږي او خلک سیاست ته وخت نه ورکوي، یا د ټکنالوژۍ پر مټ برابر شوي د اړیکو ابزار د سیاست لپاره نه کاروي. ایتان هرش په خپل کتاب "سیاست د واک لپاره دی" کې وایي چې د امریکا هر درېیم وګړی هره ورځ تر دوو ساعتونو زیات وخت په سیاسي چارو کې په داسې حال کې تیروي، چې د دې هیڅ احساس هم نه کوي چې په ټوله ورځ کې دې یې یوه دقیقه هم سیاسي کار کړی وي. خو که له نورو ټولنو سره په پرتلیز ډول وکتل شي، افغانان په دې برخه کې بیا په افراطي ډول ښکېل دي. ښایي یو لامل دا هم وي چې افغانستان په تیرو څلورو لسیزو کې په دوامداره توګه په کړکېچونو کې ښکیل پاتې شوی او دغه حالت په ولس ژور اغیز درلودلی، نو خلک هم ډېر زیات اندېښمن دي او د سیاسي بحثونو له لارې هڅه کوي چې خپلو پوښتنو او اندېښنو ته ځوابونه پیدا کړي.

سره له دې چې ټولنه مو له سیاسي اړخه خوځنده ده، پر سیاسي چارو ژور نظر ساتي او تل په دې تکل کې ده چې له چارو باخبره پاتې شي بیا هم د سیاسي جوړښتونو تر وېروونکي بریده له کمښت سره مخ ده. سیاسي شخصیتونه مو اکثره حادثو زېږولي او هغه هم د ګوتو په شمار کورنۍ او خلک دي چې دا څلور لسیزې د افغانستان سیاسي محور څرخوي او د افغانستان په اړه ټولې پرېکړې هم همدوی کوي. د دې حالت اساسي لامل دا دی چې موږ د ټولنې په توګه یوازې د خبرو تر بریده، په ناستو ولاړو او غونډو کې د سیاسي بحث محوریت کې د پاتې کیدو او یا د کور تر انګړه په سیاسي چارو کې برخه اخیستو ته چمتو یو. سیاست راته یو شوق ګرځېدلی، سیاسي بحث د وخت تیرولو لپاره کوو او که یو څوک ډېر فعال هم وي، نو سیاست ډېری وخت په ټولنه کې د شخص په توګه د ځان مطرح کولو لپاره کوي. د عملي سیاست په ځای شوقي سیاست ته لومړیتوب ورکوو او همدا لامل دی چې په سیاست کې د دومره ډېر وخت له مصرفولو وروسته هم د رښتینو سیاسي احزابو او ډلو له کمښت سره مخ یو، په معیار برابر سیاسي شخصیتونه نه لرو او په سیاسي چارو باندې مو اغیز له نشت سره برابر دی.

د سیاست یو آسانه تعریف د واک تر لاسه کولو هلې ځلې دي. د سیاسي خوځښتونو بنسټیزه موخه همدا ده چې واک تر لاسه کړي او بیا د واک له دریځه د خپلې ټولنې لپاره د خپلو ارمانونو د پاللو هڅه وکړي. په نړۍ کې ګوندونه او د هغوی پلویان چې کله غونډې جوړوي، کمپاینونه کوي او ولس هڅوي چې په سیاسي خوځښتونو او برنامو کې فعاله ګډون وکړي، نو موخه یې دا وي چې د هیواد واک ګدۍ خپله کړي. کله چې یو عادي وګړی دې ته چمتو کیږي چې پرته له کوم مادي امتیازه خلک وهڅوي چې د هغه د خوښې سیاسي ډلې یا شخص ملاتړ وکړي، نو دی اصلاً هڅه کوي چې واکمن شي. د ده د خوښې ډلې یا شخص واک ته رسیدل په حقیقت کې د دغه سیاسي رضا کار یا فعال د ارمان پالونکو واک ته رسیدل دي. کله چې موږ د واک تر لاسه کولو خبره کوو، نو دلته بحث د وګړو واک او دندو ته رسول نه دي، بلکې د هغه ارمان د پالنې خبره ده چې موږ یې د ځان او ټولنې لپاره لرو.

د دې لپاره چې خپل سیاسي ارمانونه وپېژنو، د خپلو ټولنیزو واقعیتونو په پام کې نیولو سره بایـد د دغو ارمانونو او لرلیدونو ارزونه وکړو او بیا د خپل سیاسي لرلید په ملاتړ خلک را ټول کړو، نو اړینه ده چې په دوامداره توګه سیاسي فعالیت ولرو. له بده مرغه، زموږ په ټولنه کې تر ډېره بریده عملي سیاست په ټاکنو کې د سیاسي اشخاصو د کمښت له کبله را تپل شویو بد او بدتر تر منځ ټاکنې او بیا وروسته نیوکو او شکایتونو پورې محدود وي. د ټاکنو پر مهال په پرتلیزه توګه موږ ته منلي کس لپاره تر هره بریده مبارزه کوو او له ټاکنو وروسته بیا له هماغې ډلې او که لږ حقیقت ته نږدې خبره وکړم ، شخص څخه ګیلې او شکایتونه کوو. په دې برخه کې زموږ ستره ستونزه دا ده چې افراد مو په سیاست کې خورا ډېره انرژي په غیر منظم ډول مصرفوي. که تیرو دوو لسیزو ته ځیر شو، نو جوته به شي چې دا کیسه په وار وار تکرار شوې ده. د یادونې وړ ده چې کله د واک خبره کوو، نو دا تر اجرایه ځواک یانې ولسمشرۍ پورې محدود بحث نه دی؛ بلکې مقننې قوې یا ملي شورا پورې هم تړلې خبره ده او د ښار ډلې لکه ولایتي شوراګانې پکې هم د یادولو وړ دي.

که غواړو افغانستان هغه افغانستان شي چې موږ یې تصور لرو، په هیواد کې د هغه ژوند ښېښتنان شو چې موږ یې هیله لرو او د هیواد چارې مو زموږ له غوښتنو سره سمې تنظیم شي، نو اړینه ده چې له مقطعه یي او شوقي سیاست څخه د عملي سیاست لور ته لاړ شو. د عملي سیاست لپاره تر ټولو لومړنۍ اړتیا د سیاسي ادرسونو رامنځ ته کول دي چې د سیاست په ډګر کې سیاسي احزاب دي. اړینه ده چې همفکره وګړي سره په یو ګډ محور را ټول او د خپلو سیاسي موخو د پاللو لپاره عملي سیاست وکړي. د سیاسي ادرس پیدا کول لومړنی او اړین ګام دی؛ خو د سیاسي موخو د پالنې لپاره بسنه نه کوي. اصل کار د یو سیاسي حزب له ادرسه د ولسونو انسجام، تنظیم او په خپل سیاسي فکر را ټولول دي. دا دوامداره کار او منډو ترړو ته اړتیا لري. په سیاسي چارو کې ټولنه په دریو برخو ویشل کیږي. لومړۍ ډله سیاسي مشران دي چې په شمار اشخاص د یو سیاسي ادرس استازي، څیره او غږ وي. دویمه ډله د سیاسي فعالانو ده چې د مشرانو او ولس تر منځ د پل دنده تر سره کوي او په ټولنه کې د دوامداره فعالیت له لارې که یوه خوا د خپل سیاسي هدف په ملاتړ خلک منسجموي، نو بله خوا په سیاسي ډګر کې له یو فعال شخص څخه د مشرۍ ډګر ته د ارتقا هلې ځلې کوي. درېیمه ډله او ستره ډله ولس دی، رایه کاروونکي دي او همدا ډله ده چې د واک سرچینه ده او چې چاته یې خوښه وي، د واک ګدۍ ورته سپاري. سیاسي رهبران اړ دي چې د ولس غږ ته په ورځنیو سیاسي چارو کې انعکاس ورکړي، سیاسي فعالین یوه خوا مشرانو او ولس تر منځ اړیکه پیاوړې وساتي او بله خوا د ولس پوهاوي ورځنۍ دنده مخ ته یوسي.

سیاسي هلې ځلې دوامداره چاره ده چې په مقطعه یي بڼه مطلوبې پایلې، د واک تر لاسه کول او خپلو ارمانونو ته رسیدل نه شي ورکولی. سیاسي مشران باید ولس ته د هغوی د ارمانونه په رڼا کې برنامه وړاندې کړي، سیاسي فعال د دغو برنامو په اړه ولس ته پوهاوی ورکړي او ولس د انسجام له لارې د هغه ډلې واک ته د رسولو هڅه وکړي، چې د دوی غوښتنې پوره کوي. دا چاره دوامداره کار، ناستو ولاړو، د غونډو او سیمنارونو او مطبوعاتي بحثونو له لارې شونې ده. حقیقي سیاسي قدرت تر لاسه کول اوږدمهاله مبارزې، دوامداره کار او خوځنده سیاسي فعالیت ته اړتیا لري.

که د افغانستان د تیرو دوو لسیزو سیاست ته وګورو، نو آن هغه خلک چې د پیاوړو ډلو استازي هم وو، د فرد په توګه واک ته ننوتي او همدا لامل دی چې هغه ستر ارمانونه چې د دوی ډلو له لسیزو او کلونو پاللي، د هغې د تحقق ارمان ته نه دي رسیدلي. بله خوا که د نوي نسل استازي ځوانان مو سیاسي ډګر ته راغلي، هغوی هم د فرد په توګه مطرح پاتې شوي او له همدې کبله نه دي توانیدلي چې د هغه بدلون چې ترې تمه کیده، لامل وګرځي. د حالاتو په خپل حال پاتې کیدل، یا هم له هرې ورځې په تیریدو له بد څخه بد تر لوري ته تګ د دې لامل شوی چې ولس هم ستړی دی، سیاسي فعال د ارمان پر ځای تر دندې فکر کوي او سیاسي مشران ولس یوازې تر هغې پېژني چې واک تر لاسه کړي. د خلاصون لار مو دا ده چې د شوقي سیاست پر ځای عملي سیاست ته را ودانګو، په ملي چارو کې د ځان مطرح کولو لپاره ولسونه له ځان سره ملګري کړو او د رښتیني بدلون لپاره اوږدمهاله زیار او زحمت ته ملا وتړو. د سیاسي فعال په توګه دا خپله دنده وګرځوو چې ولس په ملي مسایلو پوه کړو، سیاسي مشران د ولس له زړه خبر کړو او د واک خاوندان دې ته اړ کړو چې د حساب ورکولو اصل ته درناوی ولري.

# ملي امنیت شورا وایي، د طالبانو لهخوا د تاوتریخوالي دوام د افغانانو ترمنځ د مخامخ خبرو پیل له خنډ سره مخ کړی دی.

ملي امنیت شورا چې له طالبانو سره د مخامخ خبرو د پیل لپاره د زندانیانو د تبادلې مسوولیت پر غاړه لري، د دې ډلې له لوري د سولې بهیر د پیاوړتیا لپاره د مثبتو ګامونو په نه پورته کولو نیوکه کوي او خبرداری ورکوي، که تاوتریخوالی دوام وکړي، د سولې پر پروسې د منفي اغېزو مسوولیت به د دې ډلې پر غاړه وي.

د دغې شورا ویاند جاوید فیصل تېره ورځ رسنیو ته ویلي چې د سولې او ثبات لپاره د طالبانو شوي کارونه لا هم سولهییز نهدي.

هغه زیاته کړې: «اساسي بحث دا دی چې د سولې لپاره باید سوله ییز اقدامات وشي. د طالبانو اقدامات جنګ او د وینې تویېدنه ده. دا هېڅ ډول سولهییز اقدامات نهدي او په دې ډول د سولې مخامخ خبرو لپاره هغه چمتووالی چې نیول کېږي او هیلهمندي چې شته، هغه ټول له خنډ او ځنډ سره مخ کېږي چې مسؤلیت بهیې د طالبانو پر غاړه وي.»

ملي امنیت شورا دغه راز وایي، دوی سولې ته ژمن دي او د همدې لپارهیې تر اوسه له خپلو زندانونو تازه ۱۸۰ طالب بندیان



خلاص کړي چې په دې سره د دوی لهخوا د ازاد شویو طالب بندیانو شمېر ۴،۱۹۹ ته ورسېد.

فیصل طالبان د سولې لپاره د خپلو ژمنو په نهعملي کولو تورنوي او وایي، دې ډلې نه یوازې دا چې له دوی سره بندي نږدې ۱،۰۰۰ امنیتي سرتېري نه دي خلاص کړي، بلکې تاوتریخوالي ته یې هم دوام ورکړی، خو طالبان بیا وایي چې دوی هم سولې ته ژمن دي او له دوی سره د بندي حکومتي سرتېرو د ازادۍ بهیر لا هم روان دی.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند سهیل شاهین

د یکشنبې په ورځ له ازادي راډیو سره خبرو کې د افغانستان حکومت د بینالافغاني خبرو د پیل پر وړاندې د خنډونو په جوړولو تورن کړ او زیاته یې کړه، دوی په ښارونو او لویو نظامي مرکزونو خپل بریدونه د پام وړ راکم کړي دي.

په ورته وخت کې د سولې په چارو کې د دولت وزارت وایي، د مذاکراتو د پیل بهیر په یوه داسې پړاو کې دی چې اړینه ده تاوتریخوالی راکم شي.

# د ویتنام جنگونه

لیکنه: صفیه حلیم

د ویتنام یا «امریکایي جنگ» له ۱۹۵۹ تر ۱۹۷۵ ز کاله روان و. په دې کې یو خوا د شمالي ویتنام جنگیالي وو چې ملاتړ یې چین او روس کوو او بلې خوا ته د جنوبي ویتنام پوځ و چې امریکا ورسره ولاړه وه. په دغه جنگ کې شاوخوا ۳ میلیونه انسانان ووژل شول.

له ۱۸مې پېړۍ راهیسې برېتانیه، فرانسه، هالینډ، بلجیم، جاپان، روس او چین د نورو ملکونو د نیولو لپاره سیالي کوي. فرانسه په ۱۸۵۹ ز کال کې د ویتنام خاورې ته داخله شوه او په لږ وخت کې یې د دې لوی ښار «سایګون» بیا جنوب او مرکزي سیمه «انام» ونیول. چین له دوی سره مقابلې ته ورودانګل، خو په ۱۸۸۴ ز کال کې فرانسې ماتې ورکړه او د «ټونکین» شمالي سیمه یې هم ترې واخیسته.

په ۱۸۸۷ ز کال کې انام، ټونکین او د چین کوچین سیمې د فرانسې مستعمرې وې. په ۱۸۹۳ ز کال کې فرانسې له تایلنډ سره تر جنګ وروسته کمبوډیا او لاوس هم ونیول. په ۱۹۳۷ ز کال کې د چین او جاپان جنګ پیل شو. د چین جنوبي پوله له ویتنام سره شریکه وه او له هغه لارې به چین ته وسلې او نور اکمالات ورتلل. په ۱۹۴۰ ز کال کې جاپان له فرانسې غوښتنه وکړه چې د دوی پوځ ته د هغه سرحد د کنټرول اجازه ورکړي. دا غوښتنه رد شوه، خو په دویم نړیوال جنګ کې جرمني پر فرانسه حمله وکړه او بالاخره د یو تړون له مخې فرانسې د ویتنام په شمالي بندرګاه کې د جاپان ٦ زره پوځ ساتلو ته غاړه کېښوده. جاپان دا تړون مات کړ او پوځ یې ویتنام ته ورننوت.

بل خوا چین د ویتنام له هغو ډلو سره مرسته شروع کړه چې له فرانسې نه یې خپلواکي غوښتله. جاپان په ۱۹۴۵ ز کال کې له ویتنام ووتلو او هماغه وو چې د شمال یو مشر «هوچیمن» د خپلواکۍ اخیستو لپاره له امریکا مرسته وغوښته. هوچیمین اشتراکي (کمیونزم) مفکوره لرله چې د روس او چین د اغیز نښه وه. امریکا په جنوب- ختیځه اسیا کې د دغو دوو ملکونو اغیز نه غوښت.

د فرانسویانو په ضد جنګ کې د «هوچیمن» بریالیتوب امریکا نوره هم اندېښمنه کړه او په ویتنام کې یې د فرانسویانو پوځي مرسته پیل کړه. په ۱۹۵۴ ز کال کې هوچیمن په یو لوی جنګ کې فرانسوي پوځ ته ماتې ورکړه او بل کال په جینوا کې په یوه غونډه کې په ویتنام کې د ټاکنو فیصله وشوه. د ۱۹۵٦ ز کال په دغو ټاکنو کې امریکا پلوی «انګوډن ډیام» بریالی شو او فرانسې د ویتنام د خپلواکۍ اعلان وکړ. په شمالي ویتنام کې د هوچیمن او په جنوبي ویت نام کې د «انګوډن ډیام» په مشرۍ حکومت جوړ شو. د ۱۹۵۹ ز کال په مارچ میاشت کې هوچیمن د خپل ملک د یو ځای کولو لپاره جنګ اعلان کړ. د ده ګوند «د ملي خپلواکۍ جبهه» اوجنګیالي یې «ویتمین» نومیدل چې وروسته «ویت کانګ» بلل کیدل؛ د امریکا صدرکینیډي د کمیونزم زور ماتولو لپاره جنوبی ویتنام ته مرسته نوره هم زیاته کړه. هغه د سرکاري پوځ د روزلو او هلته د وسلو استولو پلان منظور کړ. د ۱۹٦۱ ز کال په ډسمبر میاشت کې د امریکا پوځي مشاورین جنوبي ویتنام ته ورغلل او کال وروسته د دوی یوه بېړۍ په «ټونکین خلیج» کې د جاسوسۍ لپاره ځای پر ځای شوه.

په ۱۹٦۴ ز کال کې په دغه بېړۍ د ویتنام له خوا په ټورپیډو کشتۍ حمله وشوه. امریکا د ټورپیډو د ړنګولو خبر ورکړ، خو ۳ ورځې وروسته یې اعلان وکړ چې یو بل حمله کوونکي ټورپیډو دوی په سمندر کې تباه کړه. سمدلاسه کانګریس یو پرېکړه لیک کې صدر جانسن ته اختیار ورکړ، چې د جنګ له اعلان پرته په سیمه کې پوځي عملیات کولی شي.

د ۱۹٦۵ ز کال د مارچ په دویمه امریکایي الوتکو په شمالي ویتنام بمبارۍ پیل کړه. د دوی هدف به هوایي اډې، حکومتي ودانۍ او کارخانې وې. له دغې ورځې امریکایي پوځ هم ویتنام ته ورننوت، چې مشر یې «جنرال ویلیم ویسټمورلینډ» و. دغه پوځ ویت کانګ ته په دوو سیمو کې ماتې ورکړه. ویت کانګ له دې وروسته په چریکي (ګوریلایي) جنګ لاس پورې کړ. دوی د جنوبي ویتنام په ځنګلونو کې پټ ځایونه جوړ کړي وو، چې «هوچیمن ټرېل» نومیدل. په یو ځای به یې لومه (کوړکۍ) ایښې وه او چې پوځیانو به ورباندې پښه کېښوده، نو هملته به بند شو. بیا نږدې پټ ویت کانګ به په هغوی لاسي بمونه وغورځول. امریکایانو په دغو پټځایونو بمبارۍ وکړې، خو له منځه یې نشوی وړی.

له شمالي ویتنام سره چین او نورو اشتراکي ملکونو مرسته کوله، چې د «لاوس» له لارې به ورتلل. امریکایانو په لاوس ۳ میلیونه ټن بمونه وغورځول چې د سپلای سیسټم به پرې وځنډېدو، خو بند نه شو. په ۱۹٦۸ ز کال کې د جنوبي ویتنام مرکز «هنوی» کې ډېر پراخ عملیات پلان شول او ٦۰ ورځې په ځنګلونو بې شمېره بمباریو په زرګونو ویت کانګ ووژل. له سایګون او «هویی» ښارونو نه خلک په تیښته شول. د امریکا په بمباریو او د بې ګناه خلکو په وژنه د امریکا خلک ناارامه شول او د جنګ خلاف په مظاهرو را ووتل. دوی پر خپل حکومت باور بایلود او د ۱۹٦۹ ز کال په ټاکنو کې رچرډ نکسن ولسمشر شو. د هغه پالیسي دا وه چې د جنوبي ویتنام سرکاري پوځ دې پخپله دا جنګ وکړي. په ۱۹٦۹ ز کال کې د شمالي ویتنام مشر هوچیمن مړ شو، خو ویت کانګ خپله مبارزه جاري وساتله.

په ۱۹۷۰ ز کال کې امریکا پر کمبوډیا حمله وکړه. خو په ۱۹۷۱ ز کال کې د «پنټاګون» د ځینو اسنادو لیک (بهر وتل) سره د ویتنام جګړې اصل مخ خلکو ته څرګند شو. تر ۱۹۷۳ زکال پورې په ویتنام کې د امریکا په ۵ لکه پوځ کې ۲۰ سلنه یې په اپیمو روږدي شوي وو. د ۱۹۷۴ ز کال د جنورۍ په ۲۷مه په پاریس کې د جنګ د ختمولو لپاره یو تړون وشو. د جنوبي ویتنام پوځیانو جنګ جاري وساتلو او د بري لپاره به یې له امریکایي پوځ نه مرسته غوښتله. د همدې کال تر مارچ پورې د امریکا ټول جنګي پوځ ووتلو او د لږ وخت لپاره ارامي شوه. خو د کال تر پایه ویت کانګ بیا جنګ شروع کړ. د ۱۹۷۵ ز کال د اپریل په ۳۰ مه د جنوبي ویتنام پوځ ویت کانګ ته تسلیم او د ملک د یو کولو کار پیل شو. دا د «سوشلېسټ ریپبلک اوف ویتنام» اعلان وشو او سایګون «هوچیمن» ښار ونومول شو. د جنوبي ویتنام امریکا پلوی مشر «انګو ډین ډایم» ته یې د ۱۹٦۳ ز کال په نومبر کې د مرګ سزا ورکړه.

په دغه جنګ کې د امریکا له ۵۸ زرو زیات پوځیان مړه، یو نیم لک یې زخمیان او ۲۰۰۰ شاوخوا ورک شول. د جنوبي ویتنام ۲ لکه او ۳۰ زره پوځ ووژل شو، له ۱۱ لکو زیات یې زخمیان شول او تر ټولو زیات تاوان د شمالي ویتنام (ویت کانګ) ته واوښت. د دوی ۱۱ لکه او ۷٦ زره وګړي مړه او ورک شول. شا و خوا ٦ لکه خلک یې ټپیان وو. د چین ۱۴۴٦ پوځیان مړه او ۴۲۰۰ زخمي وو. پر دې سربېره د روس، جنوبي کوریا، لاوس، استرالیا او د تایلنډ پوځي او غیر پوځي کسان هم پکې مړه او زخمیان شول. پر پوځ سربېره، د جنوبي ویتنام ۱٦ لکه، د کمبوډیا ۸۱ زره، د شمالي ویتنام ۷ لکه او د لاوس ۵۰ زره عام ولس ووژل شو.

دا جنګ د کمیونېزم (اشتراکي) او کیپیټلېزم (سرمایه دارۍ) مفکورو ټکر و، چې یوه خوا چین، روس او نور کمونېست ملکونه وو او بلې خوا ته امریکا او د هغه پلویان استرالیا، نیوزیلنډ او تایلنډ وو. د فیلپین، تایلنډ او لاوس نه عام خلک د ویت کانګ په ملاتړ د جنګ لپاره ورتلل. دا لومړی جنګ و چې راپورونه به یې په ټلوېزیون خپرېدل او هغه وخت د «پرکسي وار» (د پردیو جنګ) نوم وکارول شو. په ویتنام کې له ماتې خوړلو وروسته امریکا خپله جنګي پالیسي بدله کړه او په افغانستان کې د کمیونېزم د ماتولو لپاره یې د پاکستان له پوځ او آی اېس آی نه کار واخیست.

# د مذاکراتو په درشل کې بریدونه؛

## په سمنګانو کې د طالبانو برید له اویا ډېرو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



د سولې له هڅو سره هممهاله طالبانو یو ځل بیا په ښارونو کې ځانمرګي او ډله ییز بریدونه پیل کړي دي. پرون یې د سمنګانو ولایت په مرکز ایبک ښار کې د ملي امنیت ریاست پر یوه ودانۍ موټربم او وسله وال برید وکړ. په دغه پېښه کې له اویا زیاتو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده. طالبانو د برید مسوولیت منلی او افغان حکومت پېښه غندلې ده.

افغان حکومت بیا وایي چې طالبانو د سولې هوکړې تر لاسلیک وروسته تاوتریخوالی ډېر کړی او باید کړنې یې وڅارل شي.

پرون یوې درنې چاودنې د ایبک ښار د خلکو ارام واخیست. د سمنګانو ولایت په مرکز ایبک ښار کې د ملي امنیت ریاست په دروازه کې لومړی ځانمرګی برید وشو او وروسته د معلوماتو له مخې، څلورو وسله والو په دغه ودانۍ کې له امنیتي ځواکونو سره نښته پیل کړه. د راپورنو له مخې، په دغه پېښه کې لس امنیتي سرتېري وژل شوي او په شاوخوا کورونو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون ګڼ ملکیان ټپیان شوي هم دي. د سمنګانو والي وایي چې برید د بریدګرو په وژل کېدو سره پای ته ورسېد او په وینا یې، په پېښه کې افغان سرتېرو ته تلفات اوښتي دي. د ده په خبره: ((امنیتي ځواکونه بریالي شول چې تر ځانمرګي برید وروسته ودانۍ ته ننوتي څلور ځانمرګي بریدګر ووژني او د لا ډېر پرمختګ مخه یې ونیسي)).

سرچینې وایي چې په پېښه کې له شپېتو زیات کسان ټپیان شوي او لس نور وژل شوي دي. په ایبک ښار کې د عامې روغتیا ریاست چارواکي بیا وایي چې د پېښې له سیمې ٦۳ ټپیان او لس مړي ور وړل شوي دي. د سمنګانو ولایت د عامې روغتیا ریاست رییس عبدالخلیل مصدق وایي چې په ټپیانو کې اته ښځې او دوه ماشومان هم شته دي. د ده په خبره: ((٦۳ کسه ټپیان شوي، لس یې امنیتي سرتېري، اته ښځې او دوه ماشومان دي. د دوی روغتیایي وضعیت د ډاډ وړ دی)).

له دې سره هممهاله طالبانو بیا د یوې اعلامیې په خپرولو سره د دغه برید مسوولیت منلی دی او په خبره یې، په دغه برید کې یې افغان ځواکونو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده. سمنګان له نسبتاً امنو ولایتونو و، خو په شمالي ولایتونو کې د جګړو لمن دغه ولایت ته هم رسېدلې ده. له تېرو څو ورځو راهیسې، په بدخشان، کندوز، بلخ، فاریاب او سمنګان کې د افغان ځواکونو او طالبانو ترمنځ د نښتو راپورونه هم راځي.

دغه نښتې او بریدونه داسې مهال کېږي چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې لپاره هڅې روانې دي. افغان حکومت بیا وایي، طالبانو پر هوکړه عمل نه دی کړی او د دې ډلې کړنې باید تر ذره بین لاندې وڅارل شي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، د طالبانو مهمه دنده دا وه، چې تاوتریخوالی کم کړي یا پر نااعلان شوي اوربند عمل وکړي، جګړې ودروي او د افغان حکومت بندیان خوشي کړي، خو دغې ډلې پر یادو مواردو عمل نه دی کړی. د صدیقي په خبره، طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی او نړیوال باید دې ته متوجه وي چې طالبان د سولې له هوکړې ناسمه ګټه پورته کوي.

بلخوا رسنۍ بیا وایي چې له طالبانو سره د هوکړې ګڼ موارد تر اوسه نه دي عملي شوي. تاوتریخوالی نه دی کم شوی، جګړې نه دي کمې شوې، بندیان نه دي خوشي شوي، بهرني عسکر نه دي کم شوي، بین الافغاني خبرې نه دي پیل شوې او لا هم دغه جګړه د افغانانو ژوند اخلي. د طالبانو له لوري په ښارونو کې داسې مهال بریدونه پیلېږي چې ملګري ملتونه، اروپایي ټولنه، د مرکزي اسیا هېوادونه، چین، عربستان، قطر، امریکا او ګڼ نور هېوادونه له طالبانو غواړي چې تاوتریخوالی کم کړي او له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته حاضر شي، خو طالبان بیا وایي چې دوی به د بین الافغاني خبرو تر پایلو پورې خپلو جګړو ته ادامه ورکوي او په بین الافغاني خبرو کې به پر اوربند یا د تاوتریخوالي پر کمولو خبرې کېږي.

# د روغتیا نړیوال سازمان: په نړۍ کې د کرونا مثبتې پېښې په بې ساري ډول د ډېرېدو په حال کې دي

د روغتیا نړیوال سازمان وایي چې په دې وروستیو کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې په بې ساري ډول زیاتې شوې دي. د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د دغه ویروس د مثبتو پېښو شمېر له ۱۳ میلیونو اوښتی، دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله ۵۷۳ زره او ۴۳۹ تنه مړه شوي او له ۷.٦٦ میلیونو کسانو ډېر بېرته ترې رغېدلي دي.

امریکا د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو اوقربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په دغه هېواد کې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د کرونا ۴۱ زره او ۹۵۹ مثبتې پېښې ثبت شوې او په همدې موده کې ۲۴۸ کسان د دغه ویروس له کبله مړه شوي دي.

له امریکا وروسته برازیل دویم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي. په یاد هېواد کې د کرونا ویروس ټولې مثبتې پېښې یو میلیون او ۸٦۷ زره او ۸۴۱ او د مړو شمېر ۷۲ زره او ۲۳۴ رسېدلې دي. هند د ۹۰٦ زره او ٦۱۷ مثبتو پېښو او ۲۳ زره او ۷۲۷ مړو له کبله د نړۍ دریېم، روسیه د ۷۳۳ زره او ٦۹۹ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او پېرو د ۳۲٦ زره او ۳۲٦ مثبتو پېښو په درلودو سره پنځم د نړۍ هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان خبرداری ورکړی چې په دې وروستیو کې د کرونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر په بې ساري ډول لوړ شوی دی.

بلخوا د نړۍ څه باندې ۸۰ میلیونرانو د نړۍ له حکومتونو څخه غوښتي چې د کرونا ویروس ځپلي اقتصاد د بیارغولو لپاره باید له شتمنو نه لوړه مالیه واخیستل شي.

«د بشریت لپاره د میلیونرانو ډله» په یوه پرانیستي لیک کې له حکومتونو څخه غوښتي چې له شتمنو څخه دې سمدستي ډېره، پام وړ او په دوامداره ډول لوړه مالیه واخلي. په دغه لیک باندې د امریکا د «بن او جیري» د ایس کریم د مشهور شرکت مالک جیري ګرینفېلډ، مشهور فلم جوړوونکي ابیګېل ډیسني، د فلمونو سناریو لیکونکي میلیونر ریچارد کورټیز او یو شمېر نورو مشهورو میلیونرانو لاسلیکونه کړي دي.

په لیک کې لیکل شوي: «کووېډ-۱۹ نړۍ وځپله. موږ غوندې میلیونران د خپلې نړۍ په بیارغولو کې مهم رول لري.»

د لیک په یوې بلې برخې کې راغلي: «موږ هغه خلک نه یو چې په عاجلو خونو کې د ناروغانو درملنه وکړو. موږ د امبولانسونو چلوونکي نه یو چې رنځوران روغتونونو ته انتقال کړو. موږ خوراکي مواد نه زېرمه کوو او نه هم کور په کور خوراکي مواد انتقالوو. خو موږ پېسې لرو او دغو پېسو ته بیخي زیاته اړتیا ده. له دغه ناورین څخه زموږ د نړۍ د ژغورلو لپاره به په راتلونکې کې هم دغو پېسو ته اړتیا وي.»

## د کتــاب خبـري


# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

- لیکوال: رابرټ کیوساکي
- ژباړن: علي‌الله متوکل

### دويمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي

### پنځلسم څپرکی




زه به «پر ملکیتونو د پانګونې» خبره یو ځل درته تشریح کړم. ډېر خلک پر دې نه پوهېږي چې ملک او ملکیت څنګه د شتمنۍ په توګه کارېدای شي. زیات خلک دا فکر کوي چې د ملکیتونو شتمني مانا یو ملکیت ارزانه اخله او بیا یې په لوړ قیمت خرڅوه. داسې نه ده. دا داسې مانا ورکوي لکه څوک چې غوا واخلي او بیا یې د کباب د غوښو لپاره یو څو روپۍ ګرانه خرڅه کړي. زموږ موخه داده چې غوا واخلې او بیا یې د شیدو له پیسو څخه ګټه واخلې.

د ملکیت له پېرلو څخه موخه دا نه ده چې ملکیت دې په ګټه د خرڅولو لپاره واخیستل شي، بلکې موخه دا ده چې ملکیت دې په شتمنۍ او دارايۍ بدل شي او دایمي ګټه په لاس درکړي.

د داسې ګټې کولو لپاره وخت، زده کړې، تجربې او پیسو ته ضرورت دی. د نوو شیانو په زده کولو کې له تېروتنو ځان ساتل خورا سخت دي او د ملکیتونو په کاروبار کې تېروتنه ډېره درنه او ګرانه تمامېږي. ترڅو له تجارت څخه اضافي او د مالیې ګټه ونه لرې، د ملکیتونو کاروبار هم خطرناک او هم ورو دی.

دا چې ځینې خلک د ملکیت په کاروبار کې ناکامېږي، یو دلیل یې د نغدو پیسو نه درلودل دي. رښتیا خو دا ده چې د ملکیتونو ګټورې معاملې ډېرو پیسو ته اړتیا لري.

۴. له دارايۍ څخه په ګټه اخیستنه د ښو او لوکسو شیانو پېرل

له کافي پیسو سره سره ما او مېرمنې مې (کېم) ډېر کاله د ګروۍ په یوه ۴۰۰ ډالریز وړوکي کور کې ژوند کاوه او په معمولي موټرو کې ګرځېدو. په دې وخت کې مو د خپل تجارت اضافي ګټه د ملکیت په کاروبار کې لګوله.

نن موږ په یوه لوی کور کې اوسېږو او شپږ لوکس موټرونه لرو. دا هرڅه موږ نه دي پېرلي. دا هرڅه موږ ته زموږ دارايۍ او شتمنۍ پېرلي دي. موږ یوازې مزې پرې کوو.

کله چې زه د لوکسو شیانو یادونه کوم، موخه مې اسراف او ځان‌ښودنه نه ده، بلکې موخه مې د هغو شیانو درلودل دي چې ستاسو تر غوښتنې زیات دي او خوند ترې اخلئ.

زه یوه بېلګه درته وایم. داسې یو کس په نظر کې ونیسئ چې دنده لري؛ خو له خپلې دندې خوښ نه دی. که تاسو هغه ته ووایئ: «که دې دنده نه ده خوښه، نو پرې یې ږده» هغه به څه درته ووایي؟

هغه به ووایي: «زه غواړم چې پرې یې ږدم؛ خو د پرېښودلو خوند مې نشته.»

بلکل سم وايي. ځینو خلکو ته د دندې پرېښودل یو خوند او لوکس څیز ښکاري. خو دندې ته مجبور دي، څه وکړي. څنګه کولای شي چې دغه د دندې پرېښودو خوند او لوکس څیز ترلاسه کړي؟ اسانه ده. که ته تجارت یا ملکیت ولرې، نو تجارت او ملکیت به دې د نورو شیانو په څېر دا خوند (د دندې پرېښودل) درکړي. د دې لپاره باید داسې شتمني او دارايي رامنځته کړې چې دا هرڅه په اسانۍ درته وپېري.

**اوس دې ولیدل چې د ملکیتونو کاروبار څنګه کار کوي؟**

ته په خپله ګټه د ژوند خوند او لوکس شیان نه پېرې. ته د خپلې ګټې په وسیله داسې څه رامنځته کوې چې تا ته نوره ګټه په لاس درکوي. ستا تجارت او د ملکیت کاروبار له همدې جملې څخه دي. کله چې هغه ګټې ته ورسېږي، نو تا ته د ژوند خوند او لوکس شیان پېري، کټ مټ لکه د غوا بېلګه. د تجارت په ګټه غوا واخله. کله چې غوا تا ته شیدې درکوي، دا ستا لپاره ګټه ده. او په دې ګټه د ژوند لوکس شیان اخله.

اوس نو خوبونو او هیلو ته ورسېدو.

### شپاړسم څپرکی

### ۱٦. اتمه دارايي: لویې هیلې او هغو ته د رسېدلو وړتیا


د شبکه یي بازارموندنې یو ډېر ارزښتناک اړخ هیلو او خوبونو ته رسېدل دي. پام مو وي، ما ونه ویل چې «هیلې لرل ارښتناک دي» ما وویل چې «د هیلو لاسته راوړل ارزښتناک» دي. دغه تجارت مو د لویو هیلو او موخو لرلو ته هڅوي. د شبکه یي بازارموندنې د څېړنې پر مهال یو ډېر غوره څیز چې زه ورسره مخ شوم، زما د هیلو او خوبونو پراخېدل وو. پخواني تجارتونه ستا د هیلو او موخو له لویېدو سره چندان لېوالتیا نه لري. په کوچنیو تجارتونو کې چې هیلې او موخې څومره کوچنۍ وي، دوی هومره خوشاله وي. مثلاً، دوی په لنډ سفر، یو ساعت ګډ وخت تېرولو، ساعتېري کولو یا د رخصتیو په ورځو کې په تفریح کولو خوشالېږي. زه نه وایم چې د کوچنیو هیلو لرل بد دي. زه وایم چې دا کوچنی ژوند دی. د لوی ژوند لپاره باید لویې موخې او هیلې ولرو. مور و پلار به مې ویل: ((د ساعتېریو او تفریحي کارونو د پیسو توان نه لرو.)) خو شتمن پلار او زوی یې هغوی له دې خبرو راګرځول. ځکه هغو ویل: ((څنګه د ساعتېري او تفریحي کارونو لپاره پیسې پیدا کړو؟))

که څه هم د دې دوو خبرو ترمنځ توپیر ډېر کم ښکاري؛ خو په حقیقت کې داسې نه ده. بلکې خورا لوی توپیر لري. تاسو په خپل فکر کې دغه کوچنی توپیر د تجربو، موخو او د ژوند د لویو پرېکړو په مرسته کولای شئ چې تاسو له خپل اوسني حالت څخه په میلیونونو میله لرې د پرمختګ خوا ته وهڅوي.

**دوام لري...**

# جک کرواک

شفیق امیرزی



جک کرواک امریکايي لیکوال دی، چې د خپل وخت د لیکوالانو د اصولو پر خلاف یې لیکل وکړ. هغه په شلمه پېړۍ کې په امریکا کې خورا مشهور شو. د شهرت لامل یې هم د هغه داسې لیکوالي وه چې د امریکايي ځوانانو او هغه مهالني نسل خوښه شوه. د دې تر څنګ هغه یو یاغي طبعې لرونکی کس و، انساني ژوند ته یې درناوی درلود، خو قوانین او د امریکا ځینې ظالمانه کړنې یې غندلې. د ده د لیکوالۍ له امله د بیټ په نامه یو بهیر رامنځ ته شو. د دې بهیر ملاتړو ځوانانو او لیکوالانو په ځانګړې سبک لیکنې کولې، د ځینو سیاستونو مخالفت یې کاوه او ان د ویتنام د جګړې پر ضد د امریکايي حکومت پر وړاندې ودرېدل.

جک کرواک په امریکايي ادبیاتو کې په شلمه پېړۍ کې وتلی نوم دی، هغه د شهرت اوج ته ورسېد، خو په ۱۹٦۹ز کال کې د اکتوبر په ۲۱مه داسې مهال چې هر امریکايي لوستی یې له نامه سره اشنا و، ومړ. هغه له بودايي مذهب او اصولو سره مینه لرله، د ذند له نصیحتونو سره بلد و او له همدې امله یې ملګری آلن ګینز برګ ده ته د امریکايي نثر بودا وایي. ده هڅه کوله چې د مدرنیز له وحشیانه پرمختګ سره مقابله وکړي. وحشیانه پرمختګ په دې مانا چې د انسان لپاره یې انساني ژوند غوښت، نه د نورو ځپل، وژل او له منځه وړل. له همدې امله یې د بیټ نسل لیکوالان رامنځ ته کړل. دا نسل لیکوالان د ده پلویان وو، انساني ژوند یې ازاد، خو نرم غوښت، نه له جګړو او بې پروا پرمختګونو ډک.

جک د ۱۹۲۲ز کال د مارچ په ۱۲مه له فرانسوي او کاناډايي مور پلار زیږېدلی دی. جک په لومړي سر کې په فرانسوي ژبه خبرې کولې، خو وروسته په شپږ کلنۍ کې دې ته اړ شو چې انګلیسي ژبه زده کړي. د عمر تر پایه دی په دې بریالی نه شو چې په انګلیسي ژبه سمې روانې او پرته له کوم مشکله خبرې وکړي. ده ځینې شعرونه په فرانسوي ژبه لیکلي، خو ناولونه یې په انګلیسي ژبه دي.

مور یې کاتولیک مسیحي وه، له همدې امله یې پر خپل زوی جک هم فشار راوړ چې پر دې مسایلو ژوره عقیده ولري. ده ته به یې زده کړې ورکولې او دیني مسایلو ته یې هڅاوه. هغه وايي، یوازینۍ ښځه چې په نړۍ کې ورباندې ګرانه وه، مور یې وه، بل هېڅوک په ژوند کې ورباندې ګران شوي نه دي. دی اته کلن و چې ادعا یې وکړه، خدای ورته ویلي چې ښه اروا لري، خو ژوند به یې له بدمرغۍ ډک وي. د ده په خبره، دی پوهېږي چې په ژوند کې به خوشالي ونه لري، خو په پای کې به هر څه سم شي. هغه په ماشومتوب او تنکۍ ځوانۍ کې له فوټبال سره مینه لرله او دغه سپورت ته یې مخه کړه.

مخکې مو هم وویل چې دوی د بیټ په نامه د لیکوالانو او ځوانانو یو غورځنګ یا بهیر رامنځ ته کړ. آلنګ ګینزبرګ د جک نږدې ملګری و او د جک تر مرګ وروسته یې دېرش کاله نور هم ژوند وکړ. دی وایي، د بیټ په نامه کوم غورځنګ نه و موجود؛ بلکې دوی هسې سره کېناستل او دا پرېکړه یې وکړه چې خپل بهیر به مدیریت کوي، خو رسنیو ورپسې وتړله چې دوی د بیټ غورځنګ دی او په همدې نوم فعالیت کوي. د بیټ نسل د لومړي ځل لپاره د جک کرواک له لوري په ۱۹۴۸ ز کال کې وکارول شو. د دې کلیمې د کارولو وړاندیز هربرټ هانک ورته کړی و. په دې حلقه کې د پوهنتون استادان، لیکوالان، ځوانان او نور شاعران راټول شوي وو. دوی بیټ کلمه د هغه چا لپاره کاروله چې پیسې یې نه لرلې، کوم لیدلوری یې نه درلود او د ژوند له مسایلو ستړي وو. دا کلمه په امریکا کې هم د ستړي او ټوټې ټوټې په مانا کارول کېږي.

هغه له فوټبال سره مینه لرله، خو یو وخت یې له فوټبال او پوهنتون دواړو سره مخه ښه وکړه او پرې یې ښودل. له هغې وروسته یې په نیویارک کې ژوند پیل کړ. دلته له خپلې مېرمنې اډي پارکر سره بلدېږي، د دوی تر منځ اړیکې پخېږي او له هغې سره واده کوي. په همدې وخت کې له ځینو ځوانو لیکوالانو سره هم بلدېږي او په ګډه بیا وروسته وروسته د بیټ نسل غورځنګ بنسټ اېږدي. له دوی سره ژورې اړیکې پالي، هر یو یې پر ژوند اغېز کوي او له دې ډلې کسانو ډېر یې وروسته د جک د ناولونو کرکټر هم دي. نیل کاسدي، جان کلون، هبرت هوک، لوسین کار، ویلیام او نور هغه کسان وو چې دی په نیویارک کې ورسره معرفي او ملګري شول.

کرواک په ۱۹۴۲ز کال کې د امریکا له سمندري پوځ سره یو ځای شو. په ۱۹۴۳ز کال کې یې د روزنو تر بشپړېدو وروسته عملي کار پیل شو، خو یوازې اته ورځې یې په دغه پوځ کې فعالیت وکړ. په اتمه ورځ هغه سردرد کېږي، له ډاکټرانو دوا غواړي، دوی یې لا ډېرو معایناتو ته معرفي کوي، خو وروسته وروسته دوی په خپل راپور کې لیکي چې د هغه روغتیایي وضعیت په پوځ کې د دندې تر سره کولو لپاره مناسب نه دی. همدا دی چې پوځ پرېږدي او بېرته خپلو ملګرو ته راګرځي.

ده په امریکايي پوځ کې د دندې او کار پر مهال خپل لومړنی ناول هم لیکلی و. د کتاب نوم یې و (سمندر زما ورور دی) دا کتاب هغه مهال چاپ نه شو. کتاب په ۱۹۴۲ز کال کې لیکل شوی و، خو ان په ۲۰۱۱ز کال کې د کرواک تر مرګ لسیزې وروسته چاپېږي. هغه په دې کتاب کې نابرابرۍ، ستونزې، ناهیلۍ او د خپل ژوند ناخوالې بیان کړې دي.

جک کرواک په امریکا کې د بیټ نسل سرلاری و. دوی له دویمې نړیوالې جګړې وروسته په ۱۹۵۰ز کال کې فعالیت پیل کړ. دغه ډلې غوښتل په ټولنه کې د شته ناوړه دودونو، ځینو اصولو، ارزښتونو، جنسي مسایلو او او ټولنیزو ستونزو پر وړاندې ودرېږي. دوی د خپلو تجربو یوه برخه موسیقي ته هم یوړه، هلته یې هم مینه وال لرل، د موسیقي کاروونکو به د دوی شعرونه زمزمه کول او خلکو ته یې رسول. کرواک له خپلو ملګرو سره ډېر وخت د موسیقي په اورېدو، سندرو، شعرونو، کله کله په نشو تماشو تېراوه. دی او دوستان یې په امریکا کې د بیټ نسل مشهورې څېرې وې. په حقیقت کې جک لومړنی کس و چې د بیټ کلیمه یې د خپلو ملګرو او فکر د تعریف لپاره وکاروله. دوی په همدې لړ کې د (پر لار) ناول خپور کړ. دغه ناول جک کرواک لیکلی و او په هغه کې یې د خپل ژوند ټول مسایل را اخیستي وو. د کتابونو کتونکو له جک ډېرې پوښتنې وکړې او ده یې هم ځوابونه ورکړل. کتاب ډېر مینه وال پیدا کړل، د لوستونکو تر څنګ یې ان د هغه وخت د ډېرو لیکوالانو پر سبک خپل اغېز پرېښود.

(په لار یا په سړک کې ) ناول جک په دریو اونیو کې ولیک. دا کتاب داسې مهال لیکل شوی و چې لیکوال یې ډېر بېوزله او بې پیسو و. خو بیا یې هم ساعتونه له خپلو ملګرو سره په عیاشۍ تېرول. دی یو وخت پرېکړه کوي چې له خپلو ملګرو سره د امریکا بېلو برخو ته سفرونه وکړي. د ۱۹۴۷ او ۱۹۵۰ز کلونو تر منځ کلونه د کرواک په ژوند کې مهم دي، ځکه په همدې وخت کې یې په ژوند کې ډېر تحولات راغلي او دی د امریکا ځینو برخو ته سفرونه کوي.

د کرواک په ژوند کې تر ټول مهمه پېښه له نیل کسدي سره د هغه معرفي کېدل وو. نیل پخپله مشهور او وتلی لیکوال نه شو، خو د نورو لیکوالانو پر ژوند یې ډېر اغېز درلود. له کرواک سره د ده ملګرتیا د هغه د مشهور کتاب (پر لاره) د لیکلو سبب شوه. پخپله کرواک وایي چې د نیل کسدي په راتګ یې د ژوند سفر پیل شو او دا د لارې سر و. په همدې کتاب کې یې یو کرکټر نیل دی او په کتاب کې یې نوم دین موریارتي دی. نیل کسدي څه رقم سړی و؟ ولې یې د کرواک پر ژوند اغېز درلود؟ هغه په لس کلنۍ کې له موره پاتې شو او یوه کس یې د پلار په نامه روزنه پیل کړه. دی سرشاره او خورا شرور بنیادم و. په څوارلس کلنۍ کې د غلا په تور ونیول او بندي شو. په پنځلس کلنۍ کې یې د هټیو غلا پیل کړه، خو په اتلس کلنۍ کې مهار چلباز ترې جوړ شوی و، چې بیا وروسته ۱۱ میاشتې بندي شو او دې بند یې پر ژوند پوره اغېز وکړ، تر ازادېدو وروسته یې بیا جنایت ته لاس ور نه وړ، واده یې وکړ او په نیویارک کې یې ژوند وکړ. دلته له کیینزبرګ او کرواک سره بلد شو او د دوی ملګرتیا پخه شوه. نیل ازاده روحیه لرله، ځان یې په هېڅ قید کې نه بندي کاوه، نورو ته یې هم د ازادۍ او انقلاب درس ورکاوه، له همدې امله د بیټ نسل په منځ کې خورا مشهور هم و. (پر لار) ناول یې په دریو اونیو کې پر یوه رول کاغذ ولیک چې ۳٦ متره اوږد و. په همدې ناول کې یې ډېری کرکټر د سفر ملګري او هغه کسان دي چې دوی د سفر په اوږدو کې ورسره مخ کېږي. ناول په امریکا کې نانډرۍ راولاړې کړې. دا د یوه نوي نسل روایت و. دوی د نورمال ژوند مخالف خلک وو، دوی ځانګړی د ژوند سبک غوره کړی و او په ډېرو قیدونو بندونو پسې نه ګرځېدل.

پر لاره ناول د کرواک د شخصي خاطراتو پر بنسټ لیکل شوی و. هغه وخت یې لیکلی و چې د امریکا ډېرو برخو ته یې سفرونه وکړل. هغو یادښتونو د ناول په لیکلو کې ډېره مرسته ورسره وکړه چې د سفر پر مهال یې اخیستي وو. شپږ کاله یې وخت ونیو چې دغه ناول ته ناشر پیدا شي او هغه چاپ کړي. خو همدا چې خپور شو، د لوستونکو له خورا تاوده هرکلي سره مخ شو. همدې ناول ډېرې ګټې ورته وکړې چې کرواک یې یو څه شتمن کړ. ده یوازې منثورې لیکنې نه کولې، شعرونه یې هم لیکل. له شعرونو سره به یې موسیقي هم غږوله. ده په ۱۹۵۰ او ۱۹٦۰ ز کلونو کې د شعري محفلونو لکه رنسانس او سانفرانسیسکو سره اړیکه لرله. ډېرې هنرمندانو خپل البومونه د ده ناولونو او شعرونو په نامه نومول. ان د جک تر مرګ وروسته هم شاعرانو او لیکوالانو غوښتل د ده په څېر ژوند وکړي او د ده په څېر ازاد او خپلواک وي.

بالاخره دغه مشهور امریکايي لیکوال د ډېرو شعري ټولګو او ناولونو تر لیکلو وروسته، د ۱۹٦۹ز کال د اکتوبر په ۲۱مه د داخلي خونریزۍ له امله ومړ. ډاکټرانو یې هم لامل له حد ډېر د نشه یي توکو څښاک او استعمال بللی و.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۰ |
| € | ۸۵,۷۰ |
| Rp. | ٤٦۳ |
| ₹ | ۱۰۲۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹٤,۲۰ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ایا موخو ته مو نږدې کېږې؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

«د موخو په اړه ذهني لرلید لرل، هغه ته د ځان رسولو په مانا دي. که د ځان لپاره لرلید ونه لرو او هغه تعقیب نه کړو، نه شو کولای چې په دې اړه نورو ته سپارښتنه وکړو. یوازې د لرلید لرل کافي نه دي، باید پر هغه عمل هم وکړو.» های ایګل

جکسون براون د «د ژوند د کوچنیو لارښوونو کتاب» لیکوال د تعقیب په اړه دوو قاعدو ته اشاره کوي: «اوله قاعده: یو بل قدم هم واخلئ. دویمه قاعده: کله چې نه شی کولای دا کار سر ته ورسوی، بېرته لومړۍ قاعدې ته رجوع وکړئ.» همدا موخو ته د رسېدو لاره ده. هغه کسان چې خپلې موخې لاس ته راوړي، هېڅ وخت نه تسلیمېږي. هغوی پوهېږي چې کومه ورځ لږ اندازه کار هم وکړي، بریا ته د رسېدو امکان یې زیاتېږي. هغوی د تعقیبولو پوښتنې ته مثبت ځواب وایي. هغوی هر وخت له ځانه پوښتي، ایا موخو ته مې نږدې کېږم؟

د تعقیبولو په اړه تصویر لرل

کله چې د رهبرانو او کارفرمایانو ژوند مطالعه کوی، وینی چې هغوی ټول تعقیبوونکي کسان وو او په لوړ همت او حوصلې سره یې ناسم شرایط، موانع او د بې عدالتیو پر وړاندې عمل کاوه. هغوی هره ورځ خپلو موخو ته یو یو قدم نږدې کېدل.

په دې وروستیو کې مې د تعقیب په اړه ټولو خلکو ته د ایډیال الیزابت ککلي یو مطلب لوست. هغه په ۱۸۱۸ ز کال کې په ویرجینیا کې په یوه غریبه کورنۍ کې چې ډېره له ستونزو سره مخ وه، پیدا شوه. څلور کلنه وه چې د یو ماشوم پالنه ور تر غاړې شوه. په پنځه کلنۍ کې کله چې د دغه ماشوم په پالنه او روزنه کې له ستونزو سره مخ شوه، ذهناً یوځه ناارامه شوه. په ماشوموالي کې هغه له پلاره جدا شوه. د خبرو پر مهال یې د ژبې د بندوالي له امله په څو څو واري استاد هغې ته ویلي وو، چې بې ارزښته انسان یاست. هغه ان په ماشوموالي کې د ژوند له سختیو سره اشنا شوه. هغه د خپل حال په اړه وایي: «د اوو کلونو شاوخوا وم چې د یو انسان پلور او پېر مې په خپلو سترګو ولید، ارباب مې خپلې کورنۍ ته د ځمي توکي اخیستي



وو او د ورکړې لپاره یې کافي پیسې نه لرلې. مجبور و چې د هغه د بیې پرې کولو لپاره له خپلو اولادونو یو وپلوري. جوکو چولو اشپز زوی یې د دې قربانۍ لپاره انتخاب شو. د جو مور ته یې وویل چې هغه ته ښکلې جامې ور واغوندي. د هغه وزن یې په تله معلوم کړ او د خوګ په څېر یې وپلوره. مور یې له دې کیسې نه وه خبره، خو د هغه پر پلار یې شک کړی و. ارباب چې کله خپل زوی په موټر کې کېناوه، څو یې تیزنبورک ته بوځي، مور یې پرې خبره شوه، هغه ته یې ډېرې زارۍ وکړې چې د زوی پر سر یې د داسې نه کوي، خو ارباب په وار وار ورته وویل چې زوی یې ښار ته بیایي او سبا سهار به یې بېرته ورته راولي. سبا سهار را ورسېد، خو جو کور ته را نه غی. ورځې همداسې یو په پل پسې تېرېدې، د جو مور په هغه پسې ډېره خپه وه. ان یو ځل خو ارباب هغه د زاریو او ډېر فریاد کولو له امله وهلې ډبولې هم وه. د ارباب دا هېڅ نه خوښېده چې غلامان یې دې په غمجنه څېره ووینې.

ککلي سخت او له دردونو ډک ژوند درلود او څو څو ځلې د جنسي عمل قرباني هم شوه. هغه مجبوره وه چې د دریو کسانو په اندازه کار وکړي، هغه له دې ستونزو او سختیو سره سره تعقیبوونکې ښځه وه او له فرصتونو یې ښه استفاده کوله. هغه لیکل او لوستل زده کړل او په خیاطۍ کې هم بده نه وه. مور یې په نهه کلنۍ کې هغې ته خیاطي ښودلې وه. د هغې د تجارت او سوداګرۍ په کاروبار هم سر خلاصېده او له همدې وړتیا یې د ژوند د بدلون لپاره کار واخیست.

د موخو ټاکلو ازادي

ککلي په یوه کلیواله سیمه کې پرمختګ وکړ، خو کله یې چې ارباب تیزنبورګ ښار ته مالونه لېږدول، یوه مهمه پېښه رامنځ ته شوه. ککلي د ۲۰ کلونو شاوخوا عمر درلود چې په ځان کې یې د کارفرما وړتیا پیدا کړه. د تیزنبورګ ډېرې اوسېدونکي تور پوستي وو چې له دریو یوه برخه یې ازاد خلک وو. هغه ولیده چې غیر له تور پوستو ډېرې یې مجردې ښځې وې چې ځان ته یې کاروبار پیدا کړی و. ککلي پوه شوه چې کولای شي یوه بریالۍ خیاطه شي.

همدا دلیل و چې هغې د ځان لپاره موخې وټاکلې، هغه په هغه حال کې چې غلامه وه، بیا یې هم پرله پسې هڅې کولې او هر وخت به یې کار کاوه. یوازینۍ اندېښنه یې دېته وه چې کله به ازاده شي.

هغه کورنۍ چې دې ورسره ژوند کاوه، له سختو ستونزو تېرېده، ککلي نه یوازې د خپل ارباب؛ بلکې د ښار د ډېرو خلکو لپاره جامې ګنډلې.

ککلي وایي: «ما په دوو کالو او پنځو میاشتو خیاطۍ کولو سره د اوو غړو لرونکې کورنۍ مصارف پوره کول.» هغې غوښتل چې مالي خپلواکۍ ته ورسېږي. کله یې چې له ارباب سره د خپلې ازادۍ په اړه خبرې وکړې، هغه یې دا غوښتنه ونه منله او ورته وویل چې نور دا خبره په خوله رانه وړي. خو د ککلي موخې له هغې ډېرې پیاوړې وې چې سړی د پرې حساب ونه کړي. هغې غوښتل چې په هر صورت وي، باید د خپل ځان او خپل زوی لپاره ازادي واخلي.

کله یې چې دویم ځل له خپل ارباب سره د خپلې ازادۍ په هکله خبرې وکړې، ارباب یې ورته وویل چې دا به هغه ته ۲۵ سیکې ورکوي، څو هغه د وړې کښتۍ په واسطه له سیند څخه پرې تېر شي او ځان ایلینوی ته ورسوي. ایلینوی هغه ایالت و چې هلته غلامي بیخي منعه وه، خو ککلي دا غوښتنه بیا هم ونه منله.

هغې یې ارباب ته وویل: «د دې ایالت د اصولو مطابق زه ستا غلامه او ته زما بادار یې. زه یوازې د همدې سیمې د قانون په تغیر سره کولای شم له تا خپله ازادي واخلم.»

بالاخره کله یې چې د ارباب د کورنۍ مالي وضعیت له سختۍ سره مخ شو، ارباب یې د ازادۍ قیمت ورته ۱۲۰۰ ډالره کېښود، چې د نن ورځې له ۲۵۰۰۰ ډالرو سره برابر دی. خو دا لوړ رقم بیا هم د ککلي د په شا کېدو سبب نه شو. هغه په دې فکر کې وه چې د دې اندازې پیسو د ګټلو لپاره کومه لار پیدا کړي. د هېڅ موخې قیمت او بیه د دې په اندازه درنده او سخته نه وه.

بالاخره ککلي دې پایلې ته ورسېده چې لاړه شي نیویارک ته او هلته له یوې خیریه موسسې څخه مرسته وغواړي، خو دا مهال یې په ځان کې دا کمال ونه لید. بالاخره هغو ښځو چې دې به جامې ورته ګنډلې، هرې یوې د خپل وس مطابق له هغې سره کمک وکړ.

د ۱۸۵۵ ز کال د نومبر په ۱۳مه الیزابت ککلي وکولای شوای چې هم د ځان او هم د خپل زوی لپاره ازادي واخلي. هغه د دغه خپل حالت په اړه وایي: «۱۲۰۰ ډالره مې جمعه کړل او بالاخره زه او زوی مې ازاد شوو. ازاد! ازاد! ریښتیا چې ازادي څومره ښه کلمه ده، اوس دنیا راته ډېره روښانه شوه. ستورو راته نوی رنګ او روښنایي پیدا کړه، هو موږ ازاد شوو. خدای پاک پر موږ رحم وکړ، باوري یم، هغو کسانو چې له موږ سره یې زموږ په ازادولو کې مرسته کړې ده، حتماً به جنت ته ځي.»

د ښار هغو ښځو ته چې له ککلي سره یې د ټاکلې اندازې پیسو په پوره کولو کې مرسته کړې وه او هغې ته یې پیسې ورکړې وې، ککلي یوازې په دې شرط دا پیسې ترې اخیستې وې، چې وروسته له ازادۍ به یې بېرته ورکوي. ککلي په سن لوئیس کې پنځه کاله کار وکړ او خپل ټول پور یې ادا کړ.


## بهرنیو چارو وزارت: په امریکا کې د افغان سفارت په تړاو شوې ادعاوې او اسناد لویې څارنوالۍ ته استوو

بهرنیو چارو وزارت او په امریکا کې افغان سفارت د پژواک هغه راپور ناسم بولي چې د یاد سفارت ۷۰ متره اوږد دېوال په څه باندې ۱.۸ میلیون ډالره جوړ شوی، خو د پژواک مشر وایي چې راپور د اسنادو پر مټ جوړ شوی دی.

دا په داسې حال کې ده چې پژواک خبري اژنس د چنګاښ په ۲۱مه راپور ورکړ چې په امریکا کې د افغانستان سفارت، د ۷۰ متره دېوال د بیا جوړېدو لپاره د یوه شرکت د ۸۸ زره ډالرو غوښتنه رد کړې او دغه چاره یې د نورو شرکتونو له لارې په یو میلیون،۸۲۵ زره او ۸۳۹ امریکایي ډالره لګښت تر سره کړې ده.

له بهرنیو چارو وزارت څخه په خپرې شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دوی د هغو مستندو تحقیقي راپورونو هرکلي کوي چې معیارونه، د امانتولۍ اصل او اطلاعاتو ته د لاسرسي قوانین پکې په نظر کې نیول شوي وي.

د دغې خبرپاڼې له مخې، د بهرنیو چارو وزارت د پژواک راپور رد کړی او دغه وزارت وایي چې د روڼتیا رامنځته کېدو او حساب ورکونې په موخه د یاد دېوال د بیا رغونې پروژې اړوند ټول اسناد لویې څارنوالۍ او د پلټنو ادارو ته د څېړنو لپاره



به وسپاري.

سرچینې لیکلي چې وزارت د پژواک په خپاره کړي راپور کې پر دېوال د ۲۱ برابره زیات لګښت ادعا په دې ردوي چې د جي جي (GJ)شرکت له خوا وړاندېز شوې پیسې د دېوال جوړېدو لپاره نه وې ټاکل شوې، بلکې د ویجاړ شوي دېوال د اوارېدو او د لنډ مهاله دېوال محکم کېدو په موخه د دېوال د نه وېجاړېدو لپاره وړاندې شوې وې.

سرچینه وایي، پژواک ادعا کړې چې د سفارت دېوال د بې پروایي له امله نړېدلی او د ناوړه ګټې اخیستې لپاره د دېوال جوړېدو مسوولیت له برکت الله رحمتي څخه اخیستل شوی او یما نظام ته سپارلی شوی دی؛ په داسې حال کې چې وېجاړ شوی دېوال له کلونو راهیسې په نړېدو و او تېر کال د باران له امله لوېدلی دی او رحمتي له دندې لرې کول هم بې بنسټه خبره ده.

د بهرنیو چارو وزارت په دغې خبرپاڼه کې ویلي چې رحمتي د پروژې د ټولو تړونونو د رامنځته کېدو په بهیر کې برخه درلوده، خو وروسته چې د دېوال جوړېدو چارې پیل شوې، نوموړی د وزارت مقام په لارښوونه کابل ته وغوښتل شو.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




سه شنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۲٤مه | د ۲۰۲۰ د جولای ۱۴مه | ۵٦۷مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۰ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۹ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۰ | لمر ختل ۰٤:۵۱ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۸ | ماخوستن ۰۸:۵۰

## نړۍ




## راپورونه: په سویلي افریقا کې پر یوې کلیسا په برید کې پنځه تنه وژل شوي او ګڼ نور ټپیان دي




د راپورونو له مخې، د سویلي افریقا مرکز جهانسبرگ ته نږدې پر یوې کلیسا د وسله وال برید پر مهال لږ تر لږه پنځه تنه وژل شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي.

پولیسو په یوې اعلامیې کې ویلي چې وسله وال کسان یوې کلیسا ته ننوتل، پر خلکو یې برید وکړ او یو شمېر یې اسیر ونیول.

د پولیسو په خبره، د څلورو کسانو مړي چې په یوه موټر کې سوځول شوي وو، موندل شوي دي او یو امنیتي ساتونکی په بل موټر کې موندلی دی.

د دغه هېواد پولیس وايي، چې د ماشومانو په ګډون هغه کسان چې برمته شوي وو ، ژغورل شوي دي. سیمه ییزو چارواکو ویلي چېکه څه هم د دې پېښې اصلي لامل تر اوسه نه دی مالوم شوی، خو ویل کېږي چې ښایي د دې پېښې علت د همدې کلیسا د مشر چې په ۲۰۱٦ ز کال کې مړ شوی دی، پر میراث جدي لانجې وي. د یادې سیمې د پولیسو مشر له رویټرز خبري اژانس سره په خبرو کې ویلي چې دوی د پېښې په اړه خپلې پلټنې پیل کړې دي او پایلې به یې ډېر ژر له رسنیو سره شریکې شي.

## راپورونه: حوثیانو یوځل بیا د سعودي عربستان د نفتو پر ستر شرکت ارامکو بریدونه کړي دي

په یمن کې د حوثیانو یوه ویاند ویلي چې د سعودي عربستان په جازان ښار کې یې د تېلو یوه کارخانه د ډرون په بمونو او راکټونو ویشتلې ده.

په ورته وخت کې د سعودي په مشرۍ ائتلافي پوځیانو ویلي چې دوی څلور راکټونه او شپږ چاودېدونکي ډرون چې د حوثیانو لخوا ویشتل شوي وو، کشف او خنثي کړي دي. دغه راز د سعودي عربستان حکومت په دې اړه چې دغه راکټونه چېرې خنثی شوي او یا یې کوم ځای ته زیان رسولی دی، څه نه دي ویلي. دا په داسې حال کې ده چې د جازان د تېلو په کارخانه کې د سعودي عربستان ستر نفتي شرکت آرامکو په ورځ کې ۴۰۰ زره بېرله تېل چاڼوي. دغه سیمه د سعودي او یمن له سرحد نه ٦۰ کیلو متره واټن لري. په ورته وخت کې آرامکو شرکت هم د دغه برید په اړه تر اوسه څه نه دي ویلي. د حوثي ډلې پوځي ویاند یحیی ویلي چې د جازان په کارخانې باندې برید دقیق و. د سعودي په مشرۍ د ائتلاف پوځیانو له هغه وروسته په یمن کې جګړه پیل کړه چې په ۲۰۱۴ ز کال کې حوثیانو د یمن مشروع حکومت نسکور کړ. د یمن حکومت په نړیواله کچه رسمیت درلود او سعودي عربستان یې کلک ملاتړ کاوه.

## ولسی جرگه: تحقیق اخیر انستیتوت مطالعات ستراتیژیک افغانستان خلاف باورهای اسلامی است و عاملان اش بازداشت شود



شماری از اعضای ولسی جرگه گزارش اخیر انستیتوت مطالعات ستراتیژیک افغانستان را خلاف باورهای اسلامی و قانون اساسی میدانند و بر پیگیری نشر عاملان این گزارش تاکید دارند.

این در حالیست که اخیراً انستیتوت مطالعات ستراتیژیک افغانستان گزارشی را تحت نام ریشه‌یابی رادیکالیسم دینی در نصاب معارف افغانستان را نشر کرد که با انتقادها همراه بود.

در گزارش به نقل شهیر سیرت نویسنده این پژوهش آمده است: «به طور مشخص باید آموزه‌های دینی متمرکز بر روایت‌های کثرت گرایانه باشد و همچنان آموزش دین باید به طور مشخص در چند مضمون دینی گنجانده شده و از دیگر مضامین حذف گردد.»

در نشست دیروز ولسی جرگه روی این موضوع بحث شد. مولوی ذبیح الله عتیق نماینده مردم بدخشان در این جرگه گفت: «حکومت نشر این گزارش را نادیده نگیرد، نشر این گزارش نمک پاشیدن به زخم های مردم است، این گزارش توطیه دشمنان اسلام است، اگر حکومت این موضوع را پیگیری نکرد، ملت متحد خواهد شد و کسانی که دست به چنین کاری زده اند را جواب دندان شکن خواهد داد.»

او می گوید که این گزارش خلاف دین اسلام و قانون اساسی کشور است و کسانی که دست به نشر این گزارش زده اند باید بازداشت و مورد پیگیرد قرار گیرند.

میر رحمان رحمانی رییس ولسی جرگه به کمیسیون معارف و تحصیلات عالی این جرگه وظیفه سپرد تا گزارش را با بررسی و جزییات آنرا با جرگه شریک سازد تا جرگه در قبال این گزارش و مرکز یاد شده تصمیم اتخاذ نماید.

## ژوند

## که سالمه تغذیه ولرۍ ژر نه زړېږۍ



هېڅوک نه غواړي چې بوډا شي؛ ځکه بوډاتوب هغه دوره ده چې انسان په کې له ډېرو ستونزو سره لاس او گرېوان وي. بدن یې کمزوری وي، د سترګو دید یې د پخوا په شان قوي نه وي، غوږونه یې په سختۍ اوري، کار او خوراک نه شي کولی او دې ته ورته نورې په لسګونه ستونزې لري.

خو که د ژوند په اوږدو کې سالمه تغذیه ولرۍ او ځینې ډېر واړه ټکي په پام کې ونیسۍ، کولی شۍ د دې دورې بدني پیاوړتیا مو حفظ کړۍ. روغتیاپالان د عمر په اړه تل له یوه شي خبرې کوي. امگا ۳؛ دغه غوړ اسیدونه کولی شي پر چهارمغزو او کبانو سربېره، په ډېرو نورو موادو کې هم ومومۍ.

دوی وايي، که غواړۍ ځوان پاتې شۍ، په ورځني ډول امگا۳ واخلئ؛ ځکه د دغه اسیدو نشتون مو د پوستکي د زړښت او ذهن د کونډتوب لامل کرځي. هره ورځ یوه اندازه چهارمغز او یا هم د ماهي غوښه وخورئ څو مو د بدن د اړتیا وړ امگا۳ پوره کړې وي.

## سپما څه شی ده؟

سپما د عوایدو هغې برخې ته وايي چې نن یې نه لګوو او د سبا یا بلې ورځې لګولو او کاروبار لپاره یې ساتو. سپما یوازې د نغدو پیسو ساتلو ته هم نه وايي، هر هغه څه چې نن یې وساتی، سبا ترې گټه واخلی او ژوند مو مخ ته پرې ولاړ شي، اړتیا مو پوره کړي او د بل له احتیاجه مو خلاص کړي؛ سپما بلل کېږي. موږ او تاسو چې کله د سپما خبره اورو، لومړنی شی مو چې ذهن ته راځي هغه بانک دی. موږ فکر کوو چې سپما یاني په بانک کې د نغدو پیسو ساتل. خو سپما یا Saving په اصل کې نه مصرف شوي عواید دي، هغه که په هر ډول وي او هر چېرته یې وساتی.



سپما یاني همدا نن په ورځني ژوند کې د ډېر او بې ځایه لګښت مخه نیول. هڅه وکړئ چې د کورنۍ غړي مو د سپما له ګټو خبر کړی او د سپما کولو لارې چارې ورته وښیئ. د سپما کچه ستاسو د عوایدو په کچې پورې اړه نه لري، کولی شی خپله ورته یوه مناسبه اندازه وټاکی.



ماسټر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank